سلیمان اسدالله ۲۰۱۳/۰۶/۱۹

# د افغانستان په تاریخ کښې د اهمیت وړ ورځ

سه شنبه، چنگاښ ۲۸، ۱۳۹۲ / جون ۱۸، ۲۰۱۳

"زما ارمان دادي چې په افغانستان کې یو پایداره، خپلواکه، اسلامی او د افغانانو د ټولو ګډه حکومت جوړ شی او امنیت راولی ...."

څو ورځې د مخه مې کور ته د تلو پر مهال په راډیو کې یو پروګرام اوریده. پوښتنه یې وکړه چې خپل د زړه ارمان له مونږ سره شریک کړي. خلکو اړیکي نیولي او خپلي نظریي یې ویلي او مختلف ارمانونه یې ویل، خو د ډیرو خلکو له نورو ارمانونو سره یو لوی ارمان  دا پورته ذکر شوي جمله وه. هر یوه په (درى) او یا هم په (پښتو) ژبه تقریباً دې پورتنیو خبرو ته ورته خبرې کولې او خپل د زړه ارمان یې وطنوالو سره شریکول.

بلې خوا د طالبانو غوښتنه نا معلومه وه، او د خبرو اترو میز ته نه راتلل. افغانان هم ددې غوښتونکی دی تر څو یو خپلواکه حکومت ولرو او زمونږ امنیت، دفاع او ساتنه دې زمونږ خپل افغانان وکړي. دا خبره د منلو وړ او معقوله هم ده، ځکه خپلواکی د ټولو حق دي، خو افغانستان له داسې یوه تاریخي دور څخه تیریږی کله چې له هر طرفه ګاونډیان، بهرنی او کورنې په یوځای دلته لاس وهنې لري، د افغانستان نوې تربیه شوې اردو لا خپل سم امتحان ندی ورکړي، په لازمو وسلو سمبال ندی او لا هم لازمې روزنې ورته ندې رسیدلې، او له بلې خوا کورنۍ نا امنی دومره ده چې تقریباً بهرنی خو لا څه چې خپله افغانان هم خپلې پانګونې د افغانستان دننه نشې ساتلې.

نن ورځ (سه شنبه، چنګاښ ۲۸ ۱۳۹۲ / جون ۱۸ ، ۲۰۱۳) بهرنیانو دا هوکړه لاسلیک کړه چې په افغانستان کې به لاس په ټوپک اورپکې چې د افغانستان د خاورې، امنیت او سرحدونو څخه دفاع کوی، یواځې او یواځې افغانان وي او بهرنې به د څو میاشتو دننه دننه افغانانو ته امنیتی چارې ور وسپاری.

له بلې خوا د صلحې عالی شورا د هر ډول خبرو لپاره چمتو دي، او د افغانستان حکومت هم د طالبانو رسمی دفتر په قطر کې ومنه او دا دفتر هم پدې (سه شنبه، چنګاښ ۲۸ ۱۳۹۲ / جون ۱۸ ، ۲۰۱۳) تاریخ پرانیستل شو. او د افغانستان د حکومت د صلحې عالی شورا پلاوی به ورځې او خبرې اترې به سره کوی.

دغو حالاتو ته په لیدو او د دغو دوو سیاسی ډلو دریزونو او ادعاوو ته په نظر کې نیولو سره ویلی شو چې کچیرې دا دوه ډلې په ریښتیا سره هم له افغانستان سره مینه ولرې نو ډیر ژر به افغانستان متحده، پر امنه، خپلواکه او د ټولو افغانانو د د یوه متحد جمهوری اسلامی حکومت لاندې افغانانو ته د ژوند زمینه برابره کړي.

د یوه مسلمان او افغان په حیث مونږ دا حق لرو تر څو په افغانستان کې یو آزاده، آرامه او پر امنه ژوند ولرو او دداسې ژوند لپاره مونږه افغانانو ډیرې قربانیانې ورکړې او دا هم حقیقت دی چې د دنیا د نورو ملکونو په وړاندې چندانې ښه هم نه یادیږی او دا ټول ځکه چې مونږ متفق نه یو، راځې چې لاسونه سره ورکړو او د یوه لوی افغانستان لپاره په کار پیل وکړو.

د لوی، خپلواک، پر امنه او پرمختللی افغانستان په هیله!

چهار شنبه / جوزا ۲۹، ۱۳۹۲


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ